داکتر ناصر اوریا / مختصات افغانستان، بخش: نخبگان و مشاهیر ۲۰۲۰/۱۲/۱۸

# د افغانستان په لوی قاموس کې
# د اروابناد الفت پېژندنه

افغان جرمن انلاین پورتال ژمنه کړې ده چې «د افغانستان لوی قاموس» له لارې د هېواد ځینې خدمتگاران خپلو لوستونکو ته وروپېژني .
»د افغانستان لوی قاموس» په خپله لمن کې د گڼو علمي، هنري، ژبنيو (مجمع اللغات، تاریخ، جغرافیه، کرنه، اقتصاد او...) لغاتو د راټولولو او خوندي کولو سربېره، پتیلې ده چې د «شاعرانو، لیکوالو، هنرمندانو، سیاستوالو، خدمتگارانو او...» په کتگورۍ کې چې د اثارو، مقالو شعرونو او یا نورو برخو کې د لاسته راوړنو څښتنان اوسي، په لنډ ډول معرفي او خپلو لوستونکو ته یې په انلاین بڼه وروپېژني .
افغان جرمن انلاین پورتال خپله دنده گڼي چې له توپیر او شخصي حُب او بُغض پرته په یاده برخه کې هغه اغلې او ښاغلي معرفي کړي چې افغان، افغانستان او افغان ټولنې ته یې خدمت کړی وي او یو څه ترې پاتې وی.

ډیر تفـاوت شتـه په انسـان کـی د معنـی په لـحـاظ

واړه مصروف دی، ځینی خان، ځینی جهان جوړوی



گل پاچا الفت در سال ۱۲۸۸ هجری شمسی در قرغه یی ولایت لغمان در یک خانوادۀ منور چشم به جهان گشود. پدرش میر سیدپاچا نام داشت. وی آموزش علوم متداوله را در ولایت لغمان آغاز و اساسات علوم عربی را در ننگرهار و کابل آموخت.
این شخصیت بزرگ ملی خدمات سترگ و فراموش ناشدنی ادبی، مطبوعاتی و سیاسی را برای میهن و مردم افغانستان انجام داد.
گل پاچا الفت به تاریخ ۲۸ ماه قوس سال ۱۳۵۶ هجری شمسی در کابل چشم از جهان بست و در زادگاهش، لغمان به خاک سپرده شد.
روحش شاد، یادش گرامی و بهشت برین مکانش باد .

نن پـه یـوه پسی روان، سـبـا پـه بـل پسی ځـی
کلـه په ژیړی پسی ځــی، کلـه اوربـل پسی ځــی
فـرق د شپانه او د قصـــاب پسونه، کلـه کـوی
چی شنه گیاه یی، یی لاس کی ووینوی قاتل پسی ځی * اروابناد الفت

ښاغلی گل پاچا الفت د ښاغلی میرسید پاچا زوی په ۱۲۸۸ لمریز هجری کال کی د لغمان ولایت د عزیز خان کڅ په سیمه کی په یوه روښانه او منوره کورنی کی نړی ته سترگی وغړولی.
لومړنی زده کړی یی په لغمان کی پیل او د عربی ژبی قواعد، صرف، نحو، معانی، بیان، تفسیر، حدیث تعلیمات یی په ننگرهار او کابل کی سر ته ورسول.
لومړنی دنده یی په ۱۳۱۳ لمریز هجری کال کی د محمد ظاهر شاه په دوره کی د "انیس" د ورځپاڼی په اداره کی وه.
وروسته د ادبی انجمن د تألیف او ترجمی دڅانگه غړی شو.
کله چی په ۱۳۱۶ لمریز کال کی پښتو ټولنه جوړه شوه ښاغلی الفت یی د غړیتوب سره د دغی ټولنی د نشراتی ارگان د "زیری" د جریدی د مسئول مدیر په توگه و گمارل شو.
ورسته په ۱۳۱۸ لمریز هجری کال کی د پښتو ټولنی د صحافت د څانگی د مدیریت د مرستال او یو کال وروسته د دغی ټولنی د لغاتو او قواعدو د څانگی د مدیر په حیث وټاکل شو.
ښاغلی الفت په ۱۳۲۰ لمریز کال کی د "اصلاح" ورځپاڼی مشاور، مبصر او د "کابل مجلی" د مسئول مدیر دندی تر سره کولی.

په ۱۳۲۵ لمريز کال کی د "اتحاد مشرقی" جريدی، چې وروسته يې نوم په "ننگرهار" واړول شو، مسئول مدير په توګه وټاکل شو. او په ۱۳۲۷ لمريز کال کی د ننګرهار ولايت د قبايلو عمومی مدير شو.
په کال ۱۳۲۸ کال کی ښاغلی الفت د ولسی جرګی په اومه دوره کی د جلال آباد د خلکو د استازی په توګه او همدا راز د ملی شورا د دوهم مرستيال په حيث وټاکل شو.
په ۱۳۳۱ کال کی د شورا د اتمی دوری په ټاکنو کی يې د لغمان ولايت د قرغيو د خلکو د استازی په توګه شورا ته لار ومونډله.
په ۱۳۳۵ لمريز کال کی ښاغلی الفت د پښتو ټولنی د رئيس په توګه دنده تر لاسه کړه چی د پوهنی وزارت د عالی شورا غړيتوب يې هم درلود.
ګل پاچا الفت د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسی علومو د پوهنځی او د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځی د استاد په توګه د ځوان نسل په ښونه او روزنه کی ستر خدمتونه تر سره کړل. په ۱۳۳۸ کال کی د "افغان شوروی د دوستی" ټولنی رئيس وه.
په ۱۳۴۲ لمريز کال کی، ګل پاچا الفت د ښاغلی ډاکټر محمد يوسف د صدارت په دوره کی د قبايلو د مستقل رياست د رئيس دنده په غاړه واخيسته.
په ۱۳۴۳ لمريز کال کی يې د افغانستان د لومړنی اساسی قانون د لويی جرګی د غړيتوب وياړ درلود او په ۱۳۴۸ کال کی د ولسی جرګی د ديارلسمی دوری کی يې د ننګرهار ولايت د خلکو د استازی په حيث پارلمان ته لاره ومونډله.
ښاغلی الفت يو وخت د "ويښ ځلميانو" د ملی غورزنګ لوړ پوړی غړی وه او کله يې د دی غورزنګ د ځينو غړو ناوړه او پرديپاله ځيری وپيژندی له دی ملی غورزنګ څخه جلا شو او د "ولس" د آزادی او ملی جريدی د چلولو دنده يې په غاړه واخيسته.
ښاغلی ګل پاچا الفت د خپل ژوند په اوږدو کی هم په سياسی او هم په ادبی او مطبوعاتی ډګر کی ستر خدمتونه او لوی کارونه سر ته رسولی دی.
ښاغلی الفت دخپل خدمت په وخت کښی د خوشحال خان ادبی جائزه او د ابوعلی سينا علمي جائزه لاس ته راوړی او دمعارف دويمه او د ستوری دريمه درجه نښانونو او ددويمی تقدير نامی په اخستلو هم بريالی شوی دی.
ښاغلی ګل پاچا الفت د پښتو ادب يو لوی شاعر، اديب، ديني عالم، پياوړې ليکوال، سياست پوه، ټولنيز پوهاند، څيرونکي، تاريخ ليکونکی، او تکړه ژورناليست وه.
يو ښکلی انتقادی شعر يوه بيلګه يې د "پاليسی" په نامه:

د غنا د تن جامه که مفلسی ده
د تقوی لباس کی پټه ابليسی ده
دنيا دار که کله اغوندی خمتا
د روپيو اميانی هم کرباسی ده
په ظاهره که قاتل په مقتول وير کا
مرثيه نه ده، سندره حماسی ده
څه چې وايی ښه يې واوره باور مکړه
ته پوه نه يې دده ژبه سياسی ده
نن په سر ځای درکوی سبا پښو لاندی
دغه ټيټ او پاس کيدل، ډيپلوماسی ده
تملق په اخلاقی ښه کی وينم
اوس يې نوم قدردانی حقشناسی ده
دير کارونه په هغه خوله اجرا کيږی
چې يې کار قدمبوسی کاسه ليسی ده
چې په ژبه يې ختی، هغه يې خوښ وی
پاليسی يې په رينتيا چې، پا ليسی ده
داخلی سياست ډير دی را ټيټ ښوی
زيربنا د لوړ مقام قدمبوسی ده
وايی وجه يې وجهه کی ده هرګوره
مؤثره علاقه خدايږو، جنسی ده


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مینی ژوب کی چی بازار ته لوڅه وزی
مه وایه چي یارانه یی، لباسی ده
نامردان وایی مردی کی مزه نښته
خوندوره غوښه ګوره دی خسی ده
په آغاز یی مه غولیږه انجام ګوره
ما لیدلی شهنامه د فردوسی ده
له بل ځای څخه راغلی دلته نه ده
د څو ورځو میلمنه، دیموکراسی ده
حاکمان، ولسوالان ښول نور څه غواړی
مونږ ته بس دیموکراسی، نیمه سی سی ده
ولسواله ستا په خوله به ټول عمل کا
ولسی جرګه بیشکه ولسی ده
که "الفت" ولاړ یوازی په میدان دی
بیکسی ده، هسی نه چی ناکسی ده
د ښاغلی الفت په آثارو کې هنري ښکلا، ادبي او فرهنګي، اجتماعي، سیاسي علمي، اخلاقي او ملي فکرونه او پیغامونه نغښتي دی.
د ښاغلي الفت د کلام یوه بله بیلګه:
نه می د چا مال خوړلی نه می څوک وژلي دی
نه می چاته ورک شه یا ګم شو کله ویلی دی
نوره ګناه نلرم پدې ګناه مي مه نیسئ
زړه کې مي چې پټ ظالم ته بد غوندی کتلي دي
وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وایمه
نه یمه منکر په مظلومانو مي ژړلي دي
نه ومه خبر پرده مي لږ غوندي چې جګه کړه
نه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي
الفت صاحب ډیر آثاره لری چي یوشمیر ئی لا تراوسه ندي چاپ شوي.
ځینی چاپ شوی آثار یی په لاندی ډول دی:
-شعری کلیات "د الفت مرغلری"
-ادبی بحثونه
-د آزادی پیغام
-لوړ خیالونه او ژور فکرونه
- غوره اشعار
-غوره نثرونه
-نوی سبک او نوی ادب
-د پسرلی نغمی
-بله ډیوه
-لیکلوالی املأ او انشأ
-ملی قهرمان خوشحال خان ختک
-غوره نثرونه پښتو سندری
-عالی افکار
-څه لیکل
-لغوی څیړنه
-او ځینی نور آثار
مرحوم ګل پاچا الفت ۱۳۵٦ کال د لیندی د میاشتی به ۲۸ نیټه په کابل کی له نړی سترګی پټی کړی او په خپله مینه، لغمان ولایت کی خاورو ته وسپارل شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اروا دی ښاده، یاد دی تل پاتی او جنت دی ځای وی.

معلومات بیشتر:
گل پاچا الفت در سال ۱۲۸۸ هجری شمسی در قرغه یی ولایت لغمان در یک خانوادهٔ منور چشم به جهان گشود.
پدرش میر سیدپاچا نام داشت. وی آموزش علوم متداوله را در مکتب در ولایت لغمان آغاز و اساسات علوم عربی را در ننگرهار و کابل آموخت.
در سال ۱۳۱۳ هجری شمسی در زمان سلطنت محمد ظاهر شاه در روزنامه ملی "انیس" به کار آغاز و یک پس از یک سال به عضویت شعبهٔ تألیف و ترجمهٔ "پشتو تولنه" درآمد.
گل پاچا الفت در پُست های مختلف دولتی خدمات ارزشمندی را انجام داده است. در سال ۱۳۱۵ هجری شمسی عضو هیات تحریریه نشریه "زیری" شد و نوشته هایش برای مدت ۱۸ ماه در آن به نشر می رسید.
وی در پست های:
معاون مدیریت صحافی پشتو تولنه
مشاور روزنامهٔ اصلاح
مسئول مدیریت شعبهٔ لغات و قواعد پشتو
مفتش عمومی و ریاست شعبهٔ صحافی و تألیف پشتو تولنه
شعبهٔ لغات و قواعد پشتو
مدیریت عمومی قبایل مشرقی
مدیریت روزنامهٔ اتحاد ننگرهار
ریاست پشتو تولنه
رئیس اکادمی علوم افغانستان در سال ۱۳۳۵ که برای هفت سال در این سمت باقی ماند
گل پاچا الفت شاعر بلند اندیشه و نویسندهٔ چیره دست بود و به زبان های پشتو و دری شعر می سرود که اشعار و نوشته هایش انعکاسی از رنج های اجتماعی بود. اشعارش سلیس و از نظر محتوی غنی بود.
مجموعهٔ اول اشعار دری گل پاچا الفت به نام "اشعار منتخب" در سال ۱۳۳۴ و مجموعهٔ دوم اشعار دری وی در سال ۱۳۴۱ هجری شمسی تحت عنوان "صدای قلب" به زیور چاپ آراسته و منتشر گردید.
این هم نمونه ای از سروده های دری گل پاچا الفت:
نمونه ای از سروده های دری گل پاچا الفت به نام:
"آزادی"
به تن برهنه و عریان خوشم، نیم پیله
که بي خبر به اسیري روم به بند حریر
به مشت خاك كه از دشت حریت خیزد
اسیر هیچ نیرزد بدیدگان بصیر
گر از کمان اسارت شود خلاص کسي
ز شوق پرکشد و در هوا رود چون تیر
خیال اگر چه شب و روز مي کند پرواز
چو هست در قفس تن، بود چو مرغ اسیر
دمي که آب سرازیر گردد از لب جام
به قهقه کند از حسن حریب تعبیر
پري که مي نگري در میان بالینش
همان زشهپر مرغي است کآمده است اسیر
وی نوشته هایی در بارهٔ سبک شناسی، منطق، رسم الخط و آثار منتشر شدهٔ دیگر نیز دارد.
تآلیفات و نوشته ها و آثار گل پاچا الفت:
-کلیات شعری "د الفت مرغلری"
-ادبی بحثونه
-د آزادی پیغام
-لوړ خیالونه او ژور فکرونه
- غوره اشعار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

-غوره نثرونه
-نوی سبک او نوی ادب
-د پسرلی نغمی
-بله ډیوه
-لیکلوالی املأ او انشأ
-ملی قهرمان خوشحال خان ختک
-غوره نثرونه پښتو سندری
-عالی افکار
-ښه لیکل
-لغوی ځیرنه
-و چند اثر دیگر

گل پاچا الفت، مزید بر نویسندگی و روزنامه‌نگاری علاقمند فعالیت های سیاسی نیز بود و باری به عضویت حزب "ویش زلمیان" در آمد ولی زمانی که به ماهیت افکار غیرملی، ضد دینی و وابستگی یک تعداد از اعضای این حزب آگاه شد از این گروه فاصله گرفته و به پخش نشریهٔ مستقل به نام "ولس" پرداخت که به زبان پشتو نشر می شد.
در انتخابات سال ۱۳۲۸ هجری شمسی در دورهٔ هفتم و هشتم ولسی جرگه گل پاچا الفت به حیث نمایندهٔ برگزیدهٔ مردم جلال کوټ عضو پارلمان افغانستان شد و نظر به اهلیت و دانایی اش به صفت معاون دوم پارلمان انتخاب گردید.
این شخصیت بزرگ ادبی، مطبوعاتی و سیاسی خدمات سترگ و فراموش ناشدنی برای میهن و مردم افغانستان انجام داد.
گل پاچا الفت به تاریخ ۲۸ ماه قوس سال ۱۳۵۶ هجری شمسی در کابل چشم از جهان بست و در زادگاهش در لغمان به خاک سپرده شد.
روحش شاد، یادش گرامی و بهشت برین مکانش باد.

# د افغانستان لوی قاموس

مختصات افغانستان

| اسم یا کلمه | تصویر | بیوگرافی مختصر | معلومات مکملتر | نوع محتوا |
|---|---|---|---|---|
| گل پاچا الفت |  | ډیر تفاوت شته په انسان کی د معنی په لحاظ<br>واړه مصروف دی، ځینی ځان، ځینی جهان جوړوی<br>ښاغلی گل پاچا الفت د ښاغلی میرسید پاچا زوی په ۱۲۸۸ لمریز هجری کال کی د لغمان ولایت د عزیز خان کڅ په سیمه کی په یوه روښانه او منوره کورنی کی نړی ته سترگی وغړولی.<br>لومړنی زده کړی یی په لغمان کی پیل او د عربی ژبی قواعد، صرف، نحو، معانی، بیان، تفسیر، حدیث تعلیمات یی په ننگرهار او کابل کی سر ته ورسول.<br>لومړنی دنده یی په ۱۳۱۳ لمریز هجری کال کی د محمد ظاهر شاه په دوره کی د "انیس" د ورځپانی په اداره کی وه. وروسته د ادبی انجمن د تألیف او ترجمی دڅانگه غړی شو.<br>کله چې په ۱۳۱۶ لمریز کال کی پښتو ټولنه جوړه شوه ښاغلی الفت یی د غړیتوت سره د دغی ټولنی د نشراتی ارگان د "زیری" د جریدی د مسئول مدیر په توگه و گمارل شو. | اروابناد الفت | نخبگان، مشاهیر |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ